**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## د عراق په تاریخ کې بې سارې فساد او ګډوډي

**(ژباړه)**



د ۲۰۱۹ د فبرورۍ پر دریمه د شنبې پر ورځ د پارلمان غړي احمد الجبوري داسې یو سند وړاندې کړ چې له مخې یې نږدې تر ۴۰۸ ملیاردو دینارو زیاتې پیسې له داعش څخه د موصل تر ازادېدو وروسته یاد ښار ته ځانګړي شوي، نوموړي پوښتنه کړې چې دا پیسې چیرته ولګېدې؟ دا دومره پیسې څه ډول مصرف شوې؟ او بشپړې شوي پروژې چیرته دي؟ (Alsumaria News). همدا راز څه وخت مخکې Al-Arabiya.net هم د یوې باوري سرچینې له ادرسه په ډاګه کړه، چې د عراق لمړی وزیر عادل عبدالمهدي غواړي لسګونه ملیارده ډالره بیرته د فساد د ۱۳ زرو دوسیو د پرانیستلو له لارې تر لاسه کړي.

د یادولو وړ ده چې حسن الیاسري د رښتینولۍ کمیسون پخواني مشر د هغو ۴۸ وزیرانو د پوښتنو ګروېږنو مالومات په ډاګه کړل چې په درېو کلونو کې د فساد په قضیو کې تورن شوي وو او دې ته یې اشاره کړې چې قضایي قوې ته تر ورپېژندلو وروسته د دوی پر وړاندې هیڅ ګام نه دی اوچت شوی، ځکه د ده په وینا قضا د دوی د محکومیت د شواهدو په اړه قناعت نه لري! الیاسري چې د دې کال په لمړیو کې یې استعفا وکړه له دې څخه سر ټکاوه، چې د داسې سندونو په راتولو کې له ستونزو سره مخ کیږي چې د عراق قضایه قوه پرې قانع او تورن پرې محکوم شي، ده دې ته اشاره وکړه چې اوسنی قانوني جوړښت د فساد د جرمونو په څېړلو کې کمزوره دی. نوموړی د هغو کسانو لپاره چې عامه شتمنیو لوټې د سختو جزاګانو او اعدام غوښتنه کړې.

که څه هم د مالي فساد د کچې په اړه بېلا بېل ارقام ورکول کیږي، خو ټول په دې باور دي، کومو غلو چې له ۲۰۰۳ څخه تر ننه پورې د هیواد بودیجه لوټلې د غلا کچه یې تر یو ملیاردو ډالرو اوړي. د نړیوال پرمختګ د مطالعاتو د مرکز له لوري د یوه خپاره شوي راپور له مخې چې مرکز یې په لندن کې دی دا په ډاګه کوي چې د عراق له مالي بودیجې څخه یوازې د نور المالکي د صدراعظمۍ پر مهال ۱۲۰ ملیارد

ډالره تري تم شوي! راپور دې ته اشاره کړې چې عراق له ۲۰۰۶ څخه تر ۲۰۱۴ پورې په پراخه کچه اضافي مالي امکانات تر لاسه کړي چې کولی يې شوای په بيا رغونه او د يو پرمختللي دولت په جوړلو کې کار ترې واخلي، په دې موده کې د ټولې بوديجې کچه تر(۷۰۰ ميلياردو ډالرو) پورې وه او دا پيسې د مفسدينو جېبونو ته ولوېدې او دولت هم په دې تورن دی چې د دغه فساد تر شا يې لاس درلود، ځکه د شفافيت د نړيوال سازمان د فساد ارزونې د نوملړ له مخې په وروستيو کلونو کې عراق د هغو هيوادنو د نوملړ په سر کې راغلی چې تر ټولو زيات په فساد ککړ دی.

پر همدې بنسټ د سياستوالو له لوري د فساد د دوسيو په ډاګه کېدل او په نړيوالو راپورنو کې پرې بحث کېدل د خلکو د غوسې لامل شوي، چې د تېرو کلونو پر بې سارو بوديجو سره سره د بې وزلۍ، وزګارۍ، ټيټو خدمتونو، د زېربناوو د کمښت او ښکاره غفلت له امله را پورته شوې غوسه او روان لاريونونه چې وخت په وخت په بغداد او بېلابېلو ښارونو کې تر سره کېږې، لامل يې همدا فساد دی.

د ښکېلاکګر کافر او د دوی د مزدورانو پاليسي همدا ده او د همدې لپاره ګمارل شوي ترڅو پر عراق داسې حکومت وکړي چې د هيواد په ټولو څنډو کې ګډوډي وي، داسې ګډوډي چې له سلګونو کلونو راهيسې يې د عراق په تاريخ کې ساری نه دی ليدل شوی. د دولت په دننه او اجرايي برخه کې ګډوډي، په پارلمان او د پارلمان د غړيو تر منځ رسوايي او ګډوډي، په ټولو وزارتو او رياستونو کې ګډوډي چې ګوندونه يې د حزبي، فرقه‌يي او عقيدوي نظرياتو او د ناوړه ونډې پر بنسټ کنټرولوي. په ټوله کې هيڅ کوم رژيم او واکمن بنسټ په عراق کې نشته. دلته زموږ موخه له ګډوډۍ څخه «مالي او اداري فساد» دی، چې اوس په ورځنۍ رسوايۍ بدل شوی.

له هغې وروسته چې د عراقي مقاومت تر راټوکېدو وروسته ملکي حاکم پاول برېمر د واکمنۍ پر ترسره کولو ونه توانېد، نو حکومتونو په خپل وار سره د هيواد د سمبالولو واګې د دې سرطاني ځانګړونو په لرلو سره واخيست او -استعمارګر ځواک- ته داسې سياسي ميکانيزم وړاندې کوي چې په غيرمستقيمه توګه پر هيواد رهبري وکړي. همداراز ياد دولتونه د اشغال را منځته شوي دولتونه دي چې بايد د استعمارګرو لپاره خدمت وکړي او د دوی غولونکې تګلارې پلې کړي، په داسې ډول چې د عراقي وګړيو ګټې له پامه وغورځوي او د دوی مشروع هيلې ووژني.

فساد او بې عدالتي يوازې په عراق پورې نه ده محدود او نه هم دا په اسلامي هيوادونو کې د حاکمو رژيمونو لپاره نوې پديده ده، خو په ډېره ناوړه توګه د بې عدالتۍ او فساد د کړنلارو پلې کول دا مانا لري چې زموږ امت ته لوی ناورين مخه کړې. د فساد او غلو کچه د دې لپاره بسنه کوي ترڅو د امن کچه پرې مالومه شي او وښيي چې په کوم وضعيت کې زموږ هيواد راښکېل دی. جرمونه او فساد په ډاګه او بې باکۍ سره تر سره کېږي او د ترسره کوونکو په څېرو کې يې خندا له ورايه ښکاري! دلته داسې کسان هم شته چې د دوی ننګه کوي او د دوی کړنې توجيه کوي، په دې مانا چې فساد او بې عدالتي داسې کچې ته رسېدلې چې نور نه شي پټېدلی. نور د دې اړتيا نه شته چې دوی يې پټ کړي. د فساد په ترسره کولو کې سيالۍ کېږي او ترسره کوونکې يې کولی شي له جزا څخه هم وژغورل شي او د اجرا کوونکو لپاره په يو وياړ ګرځېدلی دی، دليل يې د دوی مقام او واک دی او په يوه کلتور بدل شوی. په حاکمه طبقه او هغو کسانو کې چې د دوی پر شاوخوا را چاپېر دي، فساد پر يوه خپرېدونکې پديده جوړه شوې.

له شک پرته دا کړنه يوه لويه ګناه ده او الله سبحانه تعالی حرامه کړې. دا حتمي ده چې د دې د بدلون لپاره کار په ټول جديت، پوره اخلاص او په لوړه کچه د پوهاوي له لارې تر سره شي هغه هم ډېر ژر او په ډېر

ځواک سره. اسلامي ملتونه په عراق يا هر ځای کې چې شتون لري په ښه توګه پوهيږي چې د دوی شتمني لوټل شوې ده، دا د مسلمانانو د حکامو د خيانت پايله ده چې د امت ځواک يې لوټلی دی او له دې ټولو څخه ژغورنه يوازې د الهي قوانينو په پلي کولو سره شونې ده. د ظالمو حکامو ليري کول، د کافر استعمارګرو شړل، له ريښې څخه د پانګوال نظام له منځه وړل او د ژوند په ټولو چارو کې د الله سبحانه تعالی احکام پلي کول د راشده خلافت دولت تر سيوري لاندې شوني دي، چې دغه دولت به د شتمنيو ساتونکی وي، نه را ټولونکی. عامه شتمني د مسلمانانو او د هغو کسانو حق دی چې د همدې دولت اتباع وي، نه د حکامو شتمني چې د لاسته راوړلو او لوټلو لپاره يې شخړې او جګړې کوي. پر همدې بنسټ به علي رضی الله عنه هيڅ شی هم په بيت المال (دولتي خزانه) کې تر يوه کال زيات نه ساته.

**د حزب التحرير ولاية عراق مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۲/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ۳۰مه**

**۲۰۱۹م، د فبروي ۵مه**